۵۶

**د افغانستان اسلامي امارت**

**د امر بالمعروف نهی عن المنکر ، جلب و جذب او سمع شکایات وزارت**

شمیره : ۱۱۴۱

تاریخ : ۸/ ۶/ ۱۴۴۳

---

## ضروري لارښووني

امر بالمعروف او نهی عن المنکر یوه مهمه، شرعي، علمي او باریکه موضوع ده او تر شل کلن اشغال وروسته د ټولنې اصلاح د فوق العاده مهارت، مصلحت او حکمت تقاضا کوي، په دې اساس لاندې څو ټکي عملي کول ضروري وبلل شول:

۱ ـ د شریعت له نظره هر څوک خصوصي حریم لري او له ډیرو استثنائي مواردو پرته څوک نه شي کولای د چا خصوصي حریم نقض کړي .

لکه : کور ، موبایل او الکترونیکي وسائل.

بناء د قضایي او امنیتي ادارو له امر پرته د خلکو د دوکانونو، تالارونو، هوټلونو، حمامونو پلټل منع دي. هیڅ څوک د امر بالمعروف او نهی عن المنکر وزارت او یا دبلې اداري د کارمند په نامه په یادو ځایونو کې د ازالې د منکراتو په نامه مداخله نشي کولی، البته! د امر بالمعروف او نهی عن المنکر مسئولین د خپلو اصولو مطابق نظارت کولی شي.

۲ ـ د اسلامي امارت په وزارتونو، ریاستونو او نورو ادارو کې د امر بالمعروف او نهی عن المنکر وظیفه د امربالمعروف نهي عن المنکر وزارت دنده ده او د یادو ادارو سره په هماهنګۍ او د هغوی په همکارۍ به ترسره کیږي، هیڅوک نه شي کولای چې په یوه حکومتي اداره کې په خپل سر مداخله او اجراأت وکړي.

۳ ـ ښو کارونو ته رابلل او له بدو کارونو منع کول د هر چا دیني وظیفه ده، اما د دې لپاره چې د امربالمعروف او نهی عن المنکر وظیفه په سمه توګه ترسره شي، نو مصلحت دا دی چې هغه کسان به دا وظیفه ترسره کوي چې رسما د امربالمعروف او نهي عن المنکر وزارت لخوا مسئولیت ورسپارل شوی وي، په دې برخه کې یې لازمې زده کړې او روزنه ترلاسه کړې وي او د دې مهمې وظیفې ټول اړخونه او مصالح ورمعلومیږي.

۴ ـ له فتوحاتو وروسته د امارت د قیام او په لنډ وخت کې د حکومتي ادارو د فعالېدو سره، ځینې رسنۍ هڅه کوي چې د امارت پرخلاف منفي تبلیغات وکړي او د خپلو تبلیغاتو لپاره مواد پیداکړي، هیله ترې کوو چې دغه الهي امر سره مخالفت ونکړي او د امر بالمعروف مسئولینو ته هم په کار اولازم ده چي دخپلو ورکړل شویو اصولو مطابق اجراءات وکړي او هم دې د دیني او اخلاقي لارښوونو په صادرولوکې داسې طرز او حکمت عملي اختیار کړي چې د دوی لارښوونو او کړنو ته منفي رنګ ورنه کړای شي.

۵ ــ د امربالمعروف او نهی عن المنکر مسئولین او په مجموع کې د اسلامی امارت ټول مجاهدین باید د داسې عکاسیو او ویډیوګانو له کولو او په خپل سر نشرولو ځخه ځانونه وساتي چې یا د خپل منځي عادي ناستو ولاړو خبره وي، یانظامي او امنیتي رازونه او محرم ځایونه وي او یا هم موضوع دومره ساده او عادي وي چې عام نشر یې د مصلحت خلاف وي او یا هم یوازې ځان ښودل او عبث کار وي.

والسلام

د امربالمعروف نهی عن المنکر، جلب جذب او سمع شکایاتو وزارت